امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه مدیریت حوادث

۳ الی ۸ عقرب ۱۴۰۴

## شماره یکصدو بیست و هشتم



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالې مؤسسې ترمنځ د تقریباً (۱) یو میلون ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالی مؤسیسې د سرپرست رئیس حزب الرحمن او مدیر اداری اجمل اصف سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۴ نېټه وکتل.

ترابی صاحب  په خپلو خبرو کی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وواېه او زیاته یی کړه چی د ژمی په رارسیدو سره باید ټول مؤسیسات ژمنۍ مرستی ژر تر ژره تر خلګو ورسوی ترڅو زیانمنی کورنۍ پر وخت د ژمنی توکو څخه برخمنی سی...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام د (UNDP) له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کی د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) له رئیس ښاغلي ستیفن رودریګز، د اقلیمی بدلون د پرټفولیو معاون ښاغلي...

ادامه در صفحه ۲

### د پېښو چارو د همغږۍ معین د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت د والي له مرستیال سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوی جوړېدونکی ودانۍ د رغنیزو چارو څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوی جوړېدونکی ودانۍ د رغنیزو چارو څخه د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۳ نېټه لیدنه...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسيا ټولنيزو خدماتو نړيوالې مؤسسې ترمنځ د تقریباً (۱) يو ميلون ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئيس الحاج ملا نورالدين ترابی په خپل کاری دفتر کې د اسيا ټولنيزو خدماتو نړيوالی مؤسيسې د سرپرست رئيس حزب الرحمن او مدير اداری اجمل اصف سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۴ نېټه وکتل.

ترابی صاحب په خپلو خبرو کی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زياته یی کړه چی د ژمی په رارسيدو سره بايد ټول مؤسيسات ژمنۍ مرستی ژر تر ژره تر خلکو ورسوی ترڅو زيانمنی کورنۍ پر وخت د ژمنی توکو څخه برخمنی سی.

همد راز ترابی صاحب يادونه وکړه که مرسته لږ وی يا ډيره خو بايد اساسی وی او اړمنو کورنيو ته پر وخت ورسيږی.

ورسته د اسيا ټولنيزو خدماتو نړيوالی مؤسيسې سرپرست رئيس حزب الرحمن د ترابی صاحب څخه ځانګړی مننه وکړه چی وخت یی ورکړ او زياته یی کړه چی يادی ادارې تل زموږ سره همکاری کړی ده او موږ هم تل کوښښ کوو چی خلکو ته مرستی ورسوو.

ديادونی وړ ده چې د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د نه سوه، نه شپېته زره، اوه سوه او دوه پنځوس (۹۶۹،۷۵۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه، چې له مخې به يې د باميان ولايت په مرکز، پنجاب، يکاولنگ نمبر۱ او يکاولنگ نمبر ۲ ولسواليو کی نغدی مرستې په لاندې ډول سره وويشل سی.

1— په يکاولنگ نمبر ۱ او يکاولنگ نمبر ۲ ولسواليو کې به ۲۸۷۰ کورنيو ته د پنځو مياشتو لپاره هری کورنۍ ته ۲۰۰ ډالر وويشل سی.

2— د ياد ولايت په مرکز او پنجاب ولسوالۍ کی به د طبيعی پېښو د خطرنو کمولو برخه کې ۳۵۰ کارګرو ته د ۲۶ ورځو کار کولو په بدل کې د هرې ورځې لپاره هر کارګر ته د ۵.۴۱ ډالرو معادل افغانۍ پيسې وويشل سی او ۳۱ ماهرو کارګرو ته به د ۲۶ ورځو کارکولو په بدل کې هره ورځ د ۹.۸۴ ډالرو معادل افغانۍ پيسې وويشل سی.

---

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختيايی پروګرام د (UNDP) له رئيس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئيس الحاج ملا نورالدين ترابی په خپل کاری دفتر کی د ملګرو ملتونو پرمختيايی پروګرام (UNDP) له رئيس ښاغلی ستيفن رودريګز، د اقليمی بدلون د پرټفوليو معاون ښاغلی نجيب الله يوسفی او د ارشد تخنيکی متخصص سيد آصف محمدی سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۵ نېټه وکتل.

ترابی صاحب د ياد سازمان راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ يو چی يو دبل سره همکاری کوو او موږ تل هڅی کړی دی چی دبيلابيلو سازمانونو او مؤسيسو په همکارۍ خلکو ته اساسی خدمتونه ترسره کړو.

ادامه صفه ۳

همدا راز ترابي صاحب وویل چې ددې اداري د انجینرۍ ټیم په مرسته مو شاوخوا ۴۰۰۰ زره هغه نقطې معلومې کړې دي چې پروژو ته ضرورت لرې او شاوخوا د ۸۰۰ هغه نقطو چې پروژو ته ضرورت لرې د ډیزاین او براورد ټول مو کارونه خلاص کړي تر څو سازمانونه او مؤسیسات پر دغه پروژو کار وکړي.
ورسته ښاغلی ستیفن رودریګز وویل چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري په کارونو کې چټکتیا روښانه ده او موږ له تاسو مننه کوو چې کارونه مو په چټکۍ روان کړي دي.
همدا راز ښاغلی رودریګز وویل چې د پیښو د مدیریت په برخه کی به په ګډه هڅه کوو چې خلګو ته اساسی کارونه وکړو او هغه لیستونه به موږ ته راکړئ چې ددې اداري د انجیرانو لخوا شاوخوا (۴۰۰۰) زره نقطې معلومې سوی دي.
په ورسیتو کی د دواړو لورو لخوا ژمنه وسوه چې په ګډه به هغه ستونزی له منځه وړو چې خنډونه یې رامنځ کړې دي.

## د پېښو چارو د همغږۍ معین د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت د والي له مرستیال سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی، زابل، کندهار او ارزګان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۳ نېټه هلمند ولایت ته ورسېد.
په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د هلمند ولایت د مقام له مرستیال، محترم الحاج مولوی محمد نبی حماس سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج جمعه خان مستقیم په شتون کې وکتل.
دغه ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومي وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلې کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلې کېدو څارنه، د وقایوی پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.
هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلې کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړي.
وروسته د هلمند ولایت مقام محترم مرستیال، د ښه راغلاست ترڅنګ زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د یادې اداري له هڅو څخه قدردانی ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د هلمند خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لري.
په پای کې، محترم حماس صاحب له دې بهیر څخه د خوښی په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.
ورپسې، یاد پلاوی د هلمند ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاری بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګړندی، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.
د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوی جوړېدونکی ودانۍ د رغنیزو چارو څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوی جوړېدونکی ودانۍ د رغنیزو چارو څخه د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۳ نېټه لیدنه وکړه او دکار پر چټکتیا او شفافیت یې ټینګار وکړ.

ښاغلی ترابي صاحب د ودانۍ د جوړونې چارې له نږدې وڅارلې او د کار پر کیفیت، چټکتیا او شفافیت یې ټینګار وکړ هغه له مسؤلو انجنیرانو او قراردادی شرکت څخه د ودانۍ د جوړېدو د پرمختګ، د موادو د کیفیت، او د انجنیرۍ د اصولو د رعایت په اړه پوښتنې وکړې.

همدا راز نوموړی زیاته کړه چې زموږ اداره یو بشر پاله اداره ده او خلګو ته چټک خدمات کوو نو باید د نوی جوړېدونکی ودانۍ ټول کارونه هم شفاف، مسلکی او ژر تر ژره بشپړ شي تر څو زموږ کارکوونکی یو مناسب کاری چاپېریال ولری او خلکو ته ښه خدمات وړاندي کړي.

د یادی ادارې لوی رئیس له انجنیرانو وغوښتل چې د وخت پابندی وساتی او پروژې ټول مراحل له تخنیکی معیارونو سره سم مخ ته یوسی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ماین‌پاکۍ د معلوماتی سیستم (IMSMA Core) څلور ورځنی ورکشاپ پرانیست




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ماین‌پاکۍ د معلوماتی سیستم (IMSMA Core) د څلور ورځنی ورکشاپ د پرانیستنې په مراسمو کې, چې د یادې ادارې د ماین‌پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست په نوښت او د جنیوا د بشردوستانه ماین‌پاکۍ د نړیوال مرکز (GICHD) په مالی ملاتړ په کابل کې ترسره شو, د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۵ نېټه ګډون وکړ.

د دې ورکشاپ په پرانیست غونډه کې د اروپایی ټولنې (EU)، د ملګرو ملتونو د معاونت دفتر (UNAMA)، د ملګرو ملتونو د ماین‌پاکۍ د خدمتونو دفتر (UNMAS)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق (UNICEF)، د سویس د همکارۍ دفتر (Swiss Cooperation) او د پلی کوونکو مؤسسو لوړپوړو استازو ګډون درلود.

پروګرام د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شو، او ورپسې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پرانیستنې وینا وکړه. نوموړی د نوی معلوماتی سیستم د پیل ګام د ماین پاکۍ د بهیر د عصری کولو، د معلوماتو د مدیریت د پیاوړتیا او د ملی او نړیوالو بنسټونو تر منځ د اغېزمنې همغږۍ د ټینګښت په لور یو مهم ګام وباله.

د ورکشاپ د ترسره کولو موخه د نوی معلوماتی سیستم IMSMA Core معرفی کول، د پخوانی سیستم ځای‌ناستی، او د ماین پاکۍ په برخه کې د کارکوونکو ظرفیت لوړول, د معلوماتو راټولول، تحلیل او مدیریت کول وو.

یاد ورکشاپ به د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۲۷مې تر ۳۰مې نېټې پورې، د څلورو ورځو لپاره دوام ولری، او تمه ده چې پایلې به یې د تخنیکی همغږۍ د ښه‌والی، د شفافیت زیاتوالی او د ماین‌پاکۍ د بهیر د چټکتیا لامل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM له رئیسی سره وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د رئیسی میا پارک، د معلوماتو د تعقیب د پروګرام مسؤل یاسین الهمدانی، د خطر کمولو پروګرام مسؤل اشرف السحر، د بیړنیو مرستو د پروګرام مرسیتال فهیم صافق او د اړیکو د مسؤل محمد سلیم خالد سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۶ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

ترابي صاحب له هرڅه وړاندی د کډوالۍ نړیوال سازمان راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې یاد سازمان تل زموږ سره په بشری او تخنیکی مرستو کې همکاری کړی ده او د یاد سازمان څخه یې وغوښتل چې ژمنی مرستی دی همدا اوس ژر تر ژره شروع کړی تر څو پر وخت اړمنی کورنی ځینی برخمنی سی.

همداراز ترابي صاحب د کډوالۍ د نړیوال سازمان د راغلی پلاوی څخه غوښتنه وکړه چې مؤسیسات دی په یوه ولایت کی مرستی نه ویشی بلکی د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کی ژمنی او نور د اړتیا وړ مواد وویشی.

د کډوالۍ نړیوال سازمان رئیسی اغلی میا پارک له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس څخه مننه وکړه چې موږ ته مو وخت راکړ او زیاته یې کړه چې یادی ادارې تل زموږ سره همکاری کړې ده او ددې ادارې د لوی رئیس هڅی یې وستایلی چې ورستۍ زلزله ځپلو کورنیو ته ژر رسیدنه وکړه او مرستی یې ورورسولې.

اغلی پارک زیاته کړه چې مخکی په دې ادارې کی د یاد سازمان کارکونکو شعبه درلودل او یو ځل بیا غواړو چې دیاد سازمان کارکونکی یوه شعبه ولری او همغږی مو لا زیاته سی او له پیښو سره د مبارې آمادګی ملی ادارې لوی رئیس وویل چې موږ تیار یو او خوشحال یو چې ستاسې کارمندان د نیړدی څخه دلته همکاری وکړې.

## آغاز کار ساخت دیوار استنادی در ولسوالی میربچه‌کوت ولایت کابل




به‌منظور کاهش خطرات و پیشگیری از وقوع حوادث طبیعی، پروژۀ کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی در ولایت کابل، با حضور الحاج مولوی نجیب‌الله انوری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت، نمایندگان اداره مرکزی، ولسوال ولسوالی میربچه‌کوت، علما، بزرگان و متنفذین محل، در قریۀ پستک ولسوالی میربچه‌کوت بتاریخ ۶ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق رسماً آغاز گردید.

در مراسم افتتاح این پروژه، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل ضمن نهادن سنگ تهداب پروژه، طی سخنانی اظهار داشت که این پروژه بر اساس توجه خاص امیرالمؤمنین حفظه‌الله تطبیق می گردد تا خطرات ناشی از حوادث طبیعی در مناطق آسیب‌پذیر و خطرناک کاهش یابد و از وقوع تلفات و خسارات احتمالی در آینده، به‌ویژه در برابر سیلاب‌ها، جلوگیری صورت گیرد.

قریۀ پستک پیش‌تر توسط تیم انجینری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل سروی و تثبیت گردیده بود.

این پروژه شامل ساخت دیوار استنادی به طول ۱۰۲ متر بوده که با هزینۀ مجموعی ۹۹۷،۴۵۶ (نه‌صدو نودو نه هزارو چهارصدو پنجاه شش) افغانی طراحی و تطبیق می‌گردد.

با تکمیل این پروژه، باشندگان منطقه تا حد زیادی از خطرات ناشی از حوادث طبیعی مصون خواهند شد.

اهالی محل از آغاز این پروژه استقبال گرم نموده و برای ثبات و تداوم نظام اسلامی دعا کردند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ټولنيزو خدماتو (WASSA) مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملا نور الدين ترابی د ټولنيزو خدماتو مؤسسې د اړيکو له مسؤل محترم فرهاد احمد بارکزی سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۶ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم نامه يې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې ترابي صاحب د يادې مؤسسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وويل، او زياته يې کړه چې خپله پروژه دې په پوره شفافيت او چټکتيا سره ترسره کړي ترڅو مستحقی کورنۍ پر وخت ورڅخه ګټه اخيستونکی سی.

ورپسې، د ټولنيزو خدماتو مؤسسې پلاوی د خپلې تطبيقېدونکې پروژې په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل او ويې ويل، چې دوی به خپله پروژه د دې ادارې له اړوند ولايتی مسؤلينو سره په پوره همغږۍ او بې له ځنډه تطبيقوی.

په پای کې، دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د دوولس زره او دوه سوه او اوه پنځوس (۱۲،۲۵۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسلیک کړه، چې له مخې به يې د بادغيس ولايت د مرکز په شمول په جوند، قادس، بالامرغاب، آب کمری او مقر ولسواليو کې په لاندې ډول سره خوراکی او نغدی مرستې ووېشل سی.

۱— د مرکز قلعه نو په ګډون په آب کمری، مقر، قادس، بالامرغاب او جوند ولسواليو کې ۴۱۳ اړمنو او مستحقو کورنيو ته د دوو مياشتو لپاره، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کيلو اوړه، ۹.۱ کيلو غوړی، ۱۰.۳ کيلو دال، ۱ کيلو مالګه او ۲.۱ کيلو بيسکوټ ووېشل سی.

۲— په مرکز قلعه نو کې به ۲۹۲ اړمنو او مستحقو کورنيو ته د ۱۲ مياشتو لپاره هرې کورنۍ ته ۲۹۰۰ افغانيو وېشل وسی .

## د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست په فرزه ولسوالۍ کې د استنادی ديوال د جوړولو کار پیل کړ




د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی د شفقت له مخې، چې د کابل ولايت د هرې ولسوالۍ او د هېواد د ټولو ولايتونو هر يو لپاره يې يوه يوه وقايوی بېړنۍ پروژه د يو ميليون افغانيو په ارزښت منظور شوې ده او د طبيعی پېښو د خطرونو د کمولو او مخنيوی په موخه، د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس، الحاج مولوی نجيب الله انوری, د مرکزی ادارې استازو, د فرزه ولسوالۍ ولسوال, علماوو او د مشرانو په شتون کې د فرزه ولسوالۍ په حسن خيل کلی کې د خطر د کمولو پروژه د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۶ نېټه رسمًا پيل شوه.

د پروژې د مراسمو په پرانست غونډه کې, د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس, د پروژې د بنسټ ډېره کېښوده او ويې ويل، چې دا پروژه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی د ځانګړې پاملرنې له مخې عملی کېږی، څو د طبيعی پېښو خطرونه په زيانمنو او له خطر سره مخ په سيمو کې راکم شی او له راتلونکو زيانونو او تلفاتو، په ځانګړی ډول د سيلابونو له خطرونو څخه مخنيوی وشی.

د حسن‌خيل کلی سيمه له دې وړاندې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌رياست د انجنيرۍ ټيم له‌خوا سروې او تثبيت شوې وه.

د استنادی ديوال دا پروژه د ۸۰ متره په اوږدوالی او ۳.۹ متره په لوړوالی ټولټال د نه سوه اووه دېرش زره او نه سوه اتيا (۹۳۷،۹۸۰) افغانيو په لګښت پلی کېږی.

له پروژې تر بشپړېدو وروسته به د سيمې اوسېدونکی د طبيعی پېښو, په ځانګړی ډول د سيلابونو له خطره، تر ډېره خوندی پاتې شی.

د سيمې خلکو د دې پروژې له پيل څخه تود هرکلی وکړ او د اسلامی نظام د ثبات او دوام لپاره يې دعا وکړه.

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت د مقام له مرستیال سره یې وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی، زابل، کندهار، ارزګان او هلمند ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه نیمروز ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د نیمروز ولایت د مقام له مرستیال، محترم الحاج مولوی نورجان احمدی سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوی محمد قاسم محمد په شتون کې وکتل.

دغه ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتی چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلی کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړی.

وروسته د نیمروز ولایت د مقام محترم مرستیال، د ښه راغلاست ترڅنګ زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د یادې ادارې له هڅو څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د نیمروز خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دی او بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لری.

په پای کې، محترم احمدی صاحب له دې بهیر څخه د خوښی په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

ورپسې، یاد پلاوی د نیمروز ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاری بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګرندی، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

## له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینې نړیوالې (IRW) مؤسسې ترمنځ د (۱۹۴,۷۸۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملا نور الدین ترابی د اسلامی هوساینې نړیوالې (IRW) مؤسسې له رئیس محترم محمد ذوالقرنین عباس او د هغه له مل پلاوی سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې ترابی صاحب راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، چې د ژمی موسم په رارسېدو دی نو له همدې امله هیله لرو چې له اړمنو او مستحقو کورنیو سره پر وخت او شفاف ډول مرستې ترسره سی.

وروسته د اسلامی هوساینې نړیوالې مؤسسې رئیس د خپلې تطبیقېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ددې ادارې له رهبرۍ څخه یې مننه وکړه او همدارنګه یې د مرستو  پر وخت او شفاف ډول وېشلو ډاډ ورکړ.

په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د یو سل او څلورنوی زره  اوه سوه او څلوراتیا (۱۹۴،۷۸۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه، چې له مخې به یې د غور ولایت په تیورې ولسوالۍ کې ۷۴۴ مستحقو او اړمنو کورنیو ته د ژمنیو توکو د رانیولو په موخه هرې کورنۍ ته ۱۳۹۵۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل سی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خوړو نړیوال سازمان (WFP) له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې ادارې لوی رئیس، الحاج ملا نورالدین ترابی د خوړو نړیوال سازمان د  رئیس جان ایلیف، د اړیکو مسؤل اشرف بلوچ او د اړیکو د مرستیال حمیدالله افغان سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل.

ترابی صاحب له هرڅه وړاندې د WFP پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې د خوړو نړیوال سازمان تل افغان ولس ته بشری مرستې رسولې دی، چې موږ ورڅخه ځانګړې مننه کوو او تل هڅه کوو چې بیلابیلو سازمانونو او مؤسسو ته په هره برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړو او په دې برخه کې موږ ډېر کار کړی دی.

همدا راز ترابی صاحب وویل، چې یو ځل بیا د افغان کډوالو راستنېدنه زیاته سوې ده او باید په ګډه سره مرستی ورسره وکړو.

د خوړو نړیوال سازمان رئیس جان ایلیف د یادې ادارې د لوی رئیس څخه مننه وکړه چې تل یې خلکو ته غوره خدمتونه وړاندې کړی دی او لاهم د خلکو د خدمتونو لپاره هڅې کوی.

همد راز ښاغلی ایلیف زیاته کړه چې موږ او تاسو باید په ګډه کار وکړو او خلکو ته په بیلابیلو برخو کې غوره خدمتونه وړاندې کړو تر څو زیانمنې کورنۍ پر وخت د مرستو څخه برخمنې سی او اساسی کارونه ورته وسی.

همداراز په تفصیل سره خبره وسوه، چې یاده اداره به د نړیوال بانک د کارکونکو سره پوره پوره همکاری کوی ترڅو چې هرات، غور، بدخشان او کونړ ولایتونو کې د پېښو هر اړخیزه سروې وکړی.

په پای کې پر ګډو همکاریو او زیانمنو کورنیو ته پر ژر رسیدنه ټینګار وسو.

## له پېښو سره د مبارزې  آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د پنجشیر ولایت د یو شمیرمسؤلینو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم ملا محب الله جاهد، د کلیو پراختیا او بیا رغونې رئیس، محترم مولوی شیر علی موزون، د یاد ولایت د عنابه ولسوالۍ ولسوال، محترم مولوی مدنی صاحب، د شتل ولسوالۍ ولسوال، محترم مولوی نجیب الله یوسفی او د امنیې قومندانۍ د جلب او جذب قومندان، محترم نجیب احمد سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه لیدنه وکړه.

په دې مهمه ناسته کې د ولایت د پرمختیایی چارو، د طبیعی پېښو د مخنیوی، د عامو خلکو د خوندیتوب، او د بیړنیو مرستو د همغږۍ په اړه هر اړخیز بحث وسو.

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس ښاغلی جاهد د پنجشیر اړوندو سیمو د اړتیاوو او ستونزو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل او د یادې ادارې څخه یې د لازمې همکارۍ او ملاتړ غوښتنه وکړه.

محترم ترابي صاحب د ګډونوالو خبرې په پوره پام واورېدې او ډاډ یې ورکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره به د پنجشیر د خلکو د خوندیتوب، د بیړنیو مرستو د تنظیم او د رغنیزو چارو د ملاتړ په برخه کې هر اړخیزې هڅې کړې دی او کوی یې.

په پای کې دواړو لورو ټینګار وکړ چې د همغږۍ، ګډو هڅو او دوامدارې همکارۍ له لارې به د ولایت د پرمختګ او د طبیعی پېښو د اغېزو د کمولو په برخه کې مهم او عملی ګامونه پورته کړې.

## په ملک پوله کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداری له لوری په جوړ شوی پنډغالي کې د خدماتو رسونې له لړۍ څخه د پېښو چارو د همغږۍ معین څارنه ترسره کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین؛ محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) نیمروز ولایت ته د خپل رسمی سفر په ترڅ کې، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه په ملک پوله کې د دې ادارې له لوری د راستنېدونکو لپاره له نوی جوړ شوی پنډغالی څخه لیدنه او څارنه وکړه.

په دې لیدنه کې، له معین صاحب سره د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس؛ محترم الحاج مولوی محمد قاسم محمد هم مل وو.

د دې څارنې موخه، له ایران هېواد څخه راستنو شویو هېوادوالو ته د خدماتو رسونې د حالت ارزونه او د راستنېدونکو لپاره د اوبو، خوراک، روغتیا ساتنې او لنډمهالي سرپناه د برابرولو برخه کې د اړوندو بنسټونو له اړینې همغږۍ څخه د ډاډ ترلاسه کول وو.

د کتنې په لړۍ کې، معین صاحب په پنډغالی کې د شته امکاناتو د ارزونې ترڅنګ د راستنېدونکو کورنیو اساسی اړتیاوو ته د بیړنۍ رسېدنې او د خدماتو د کچې په لوړېدو باندې ټنګار وکړ.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره د نړیوالو بنسټونو او بشری شریکانو په ملاتړ، په ملک پوله کې د خپلو راستنېدونکو هېوادوالو لپاره اړین خدمات برابر کړی دی او هڅه کوی ترڅو دا لړۍ په منظم ډول دوام ولری.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۵ زیانمنو کورنیو، د شهیدانو ورثه او معلولینو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۳ نېټه ۱۶۵ زیانمنو کورنیو، د شهیدانو ورثه او معلولینو ته د دې ولایت په دره‌بوم ولسوالۍ کې خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې ۱۳۰ کورنیو ته چې د وچکالۍ له امله زیانمنې شوې وې او ۳۵ کورنیو ته چې د شهیدانو ورثه او معلولین پکې شامل وو. د اړوندې ولسوالۍ د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته مرستې ووېشل شوې او هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۵۰ کیلويي غنم او ۴ کیلو بوره ووېشل شوه.

د مرستې ترلاسه کوونکو کورنیو د دغې مرستې له امله خوښي څرګنده کړه او د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې مننه وکړه، چې په سختو حالاتو کې له زیانمنو کورنیو سره مرسته او همکاري کوي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۱,۰۰۰ خانواده نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(W-FP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری این مؤسسه، برای ۱۰۰۰ خانواده نیازمند در ولسوالی گذرگاه نور آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۳ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع کرد.

در جریان این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان محلی ۱۵۰ کیلو آرد، ۱۳.۶۵ کیلو روغن، ۱۸.۷۵ کیلو دال و ۱.۵ کیلو نمک توزیع گردید.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وچکالۍ له امله ۹۷۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د SFL موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د وچکالۍ له امله ۹۷۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۳ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵۵ کیلو غوړي، نیم کیلو مالګه، ۱.۵ کیلو پلمپی، ۳ کیلو سوپرسریال او ۶.۲۵ کیلو دال ووېشل شول.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۱۶۴۷ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه HIA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مؤسسه متذکره، برای ۱۶۴۷ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی خواجه موسی، بعد از سروی بتاریخ ۳ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسئولان به هر خانواده ۲۹۰۰ افغانی پول نقد توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۴,۷۷۶,۳۰۰ (چهارمیلیون‌و هفت‌صدو هفتادوشش‌هزارو سه صد) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د کندهار ولایت په تخته پل ولسوالۍ کې د یو نوی پنډغالي د جوړولو چارې دوام لري

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي صاحب د لارښوونې له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د تخته پل ولسوالۍ په انځرکی سیمه کې، له ګاونډۍ هېواد پاکستان څخه په اجباری توګه د راستنېدونکو، په فرضی کرښه کې د جګړې له امله د زیانمنو شویو او د نورو طبیعی پېښو له امله د زیانمنېدونکو کورنیو لپاره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۳ نېټه د یو معیاری پنډغالی د جوړولو چارې په چټکۍ سره پیل کړې دی.



په یاد پنډغالی کې تردې مهال پورې، ۶۰ بابه خېمې درول شوې دی، چې نورې چارې لکه د تشنابونو او سړک جوړول، د یو ربحال درول، د کثافت دانیو نصبول، د څښلو وړ اوبو د ذخیرو نصبول او داسې نور اړین کارونه به یې هم په نیږدې راتلونکی کې بشپړ شی.
د یادونې وړ ده، چې یاد پنډغالی به د ټولو اړینو آسانتیاوو په پام کې نیولو سره په نیږدې راتلونکی کې د مستحقو کورنیو کتې اخیستنې ته وسپارل شی.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مقام د حکم پر بنسټ، د دې ولایت اړوند ۱۲۸ کورنیو ته چې د وچکالی له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۵ نېټه خوراکی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یوه بوری ۵۰ کیلویی غنم وویشل شول.

## د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په کوه زور ولسوالۍ کې د وچکالۍ ځپلو کورنیو سروې ترسره کړه



د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ، د یاد ولایت د کوه زور ولسوالۍ د خلکو د ژوند پر وضعیت د سختې وچکالۍ د اغېزو له امله یاد ریاست د زیانمنو کورنیو د پېژندنې او ارزونې په موخه د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۴ نېټه یوه تفصیلي سروې ترسره کړه. د دې سروې موخه د زیانمنو کورنیو د بېړنیو اړتیاوو معلومول او د بېړنیو مرستو د برابرولو لپاره د کره معلوماتو راټولول وو.
یاده سروې د یوې اوونۍ په موده کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د تخنیکي ټیم له لوري، د کډوالو چارو ریاست، د کرنې ریاست او د سرې میاشې د استازو په همکارۍ ترسره شوه. د سروې ټیم د کور په کور ګرځېدو له لارې د کوه زور ولسوالۍ د وچکالۍ له امله زیانمنې شوې کورنۍ وپېژندلې او د پوښتنلیکونو او مخامخ مرکو له لارې یې کره معلومات راټول کړل.
د سروې پایلې ښیي چې ۵۰۰ کورنۍ د وچکالۍ له امله له سختو زیانونو سره مخ شوې دي. د دغو کورنیو عمده ستونزې د څښاک د اوبو جدي کمښت، د کرنیزو محصولاتو او څارویو له لاسه ورکول، او د معیشتي او اقتصادي فشارونو زیاتوالی دی.
د سروې پر بنسټ، زیانمنې کورنۍ په بیړنۍ ډول د څښاک اوبو، خوړو، د څارویو د خوراکي توکو او مالي مرستو ته اړتیا لري. له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره په پام کې لري چې له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې او د همکارو ملي او نړیوالو موسسو له لارې د بېړنیو مرستو په برابرولو سره د دې کورنیو ستونزې حل کړي او د هغوی د معیشت په بیا احیا کې مهم رول ولوبوي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۶۲ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان بتاریخ ۴ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۶۲ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
این کمک‌ها که از سوی کمیسیون رسیدگی به زلزله‌زدگان به ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان سپرده شده بود، بر اساس حکم مقام ولایت و در حضور کمیته مربوطه توزیع گردید.
در این روند، برای ۴۵ خانواده از مجموع یادشده، هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، یک بسته مواد خوراکی، ۶ کیلو خرما، ۴ کارتن بسکویت، یک تخته ترپال، یک بسته وسایل آشپزخانه یونیسف، یک فرش پلاستیکی و یک جاروب توزیع شد.
همچنین، برای ۱۷ خانواده دیگر، هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۶ کیلو خرما، ۴ کارتن بسکویت، یک تخته ترپال و یک بسته مواد خوراکی توزیع گردید.
خانواده‌های دریافت‌کننده ضمن ابراز خرسندی از دریافت این کمک‌ها، از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان قدردانی کردند که در شرایط دشوار، از خانواده‌های آسیب‌دیده حمایت و کمک می‌نماید.



## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سېلاب له امله ۲۴۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ARCIO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د ننګرهار ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ریاست د دې بنسټ په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په جلال آباد ښار او شینوار، اچین، سپین غر، بتی کوټ، پچیراګام، هسکه مینه، سرخ رود او خوګیاڼي ولسوالیو کې د سېلاب له امله ۲۴۸ زیانمنو شویو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۵ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

همدارنګه، له یاد شمېر کورنیو څخه ۱۷۶ کورنیو ته د کاکو او ۲۰۳ کورنیو ته د مغزی حلوا مرستې هم ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې دا مرستې د یوې میاشتې لپاره وې په پام کې ده، چې دې کورنیو ته به په راتلونکې میاشت کې هم په همدې ډول خوراکي مرستې ووېشل شي.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۳ بېوزله کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مقام د حکم پر بنسټ له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره، د دې ولایت په مرکز مزار شریف ښار کې ۲۶۳ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۵ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې یاد شمېر کورنیو ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې ټولټال ۲۷۳ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱,۳۴۰ کیلو بوره او ۲۶۹ کارټن بسکېټ ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۲,۱۷۰ خانوادهٔ نیازمند کمک‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامهٔ ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ ASIO که تمویل پروژه آن برنامهٔ جهانی غذا(WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با همکاری مؤسسه متذکره، برای ۲,۱۷۰ خانوادهٔ نیازمند در ولسوالی روی دوآب آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۵ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق روند توزیع کمک‌های غذایی را آغاز کرد.

در این پروسه با حضور مسئولان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۶.۲۵ کیلو دال نخود، ۴.۵۵ کیلو روغن، ۰.۵ کیلو نمک، ۳ کیلو سوپر سریل و ۱.۵ کیلوگرام پلمپی توزیع گردید.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په نرخ ولسوالۍ کې یو نوی جوړ شوی پُل ګټې اخیستنې ته وسپاره




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د نرخ ولسوالۍ د ده خرقې په سیمه کې د یو پُل د جوړولو پروژه د دوه میلیونه او اووه سوه زره (۲,۷۰۰,۰۰۰) افغانیو په لګښت بشپړه کړه او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۶ نېټه رسمًا یې ګټې اخیستنې ته وسپارله.

یاد پُل د ۱۳.۱ مترو په اوږدوالی، ۴ مترو په پلنوالی او ۳ مترو په لوړوالی جوړ شوی دی، او د دواړو غاړو په اوږدو کې یې د ۶۰ مترو په ټولیز اوږدوالی استنادی دیوالونه جوړ شوي دي.

د یاد پُل د پرانېستې مراسم د میدان وردګ ولایت والي، محترم الحاج ملا خیرالله خیرخواه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی فیض‌الله جلالی، د دولتي ادارو استازو، دینی عالمانو، قومی مشرانو او یو شمېر سیمه‌ییزو مسؤلینو په ګډون ترسره شول.

یاده پروژه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د ځانګړې لارښوونې او شفقت له مخې په نرخ ولسوالۍ کې منظوره شوې وه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له بودجې څخه تمویل او پلی شوې ده.

د سیمې اوسېدونکو د دې پروژې له بشپړېدو څخه خوښی څرګنده کړه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی له هڅو یې مننه وکړه او د راتلونکې لپاره یې د نورو پراختیایی او بیړنیو پروژو د پلی کېدو غوښتنه وکړه.

## آغاز روند پاک‌سازی مناطق آسیب‌دیده از حوادث طبیعی در ولایت پروان



بر اساس حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و به هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان روند پاک‌سازی مناطق آسیب‌دیده از حوادث طبیعی را از رسوبات در بخش‌های مختلف این ولایت، به‌ویژه در مناطقی که مسیرهای سیلابی مسدود گردیده بود، بتاریخ ۵ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز نمود.

این روند از پارک گلغندی مرکز ولایت پروان، توسط کمیته رسیدگی اضطراری و با استفاده از یک عراده اسکواتر مربوط ریاست شهرداری آغاز شد. مواد سوخت این وسایط نیز از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تأمین گردیده است.

قابل یادآوری است که این روند با هدف پاک‌سازی مناطق آسیب‌دیده در تمام ولسوالی‌های ولایت پروان ادامه خواهد داشت.

## په کابل ولایت کې د دوو فیرونو د توپ مرمۍ کشف او خنثی کړل شوې




د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ډافادر مؤسسې د ماین‌پاکۍ ټیم په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۶ نېټه د کابل ښار د شېرمې حوزې د پاکولو په عملیاتو کې د ۱۱۵ میلی‌متری دوه د توپ مرمۍ وموندلې او په خوندی توګه یې له منځه یوورې، دا مرمۍ د ملی موزیم دننه موندل شوې وې.
دا عملیات د ښار د اوسېدونکو او عامه ځایونو د خوندیتوب په موخه ترسره شوي وو. د ماین‌پاکۍ تخنیکی ټیم د سیمې له کره ارزونې وروسته دواړه مرمۍ چې د موزیم دننه وې، وپېژندلې او په خوندی ډول یې له منځه یوورې.
د ماین‌پاکۍ د ټیم پر وخت ګام د ملی موزیم د کارکوونکو او لیدونکو لپاره د هر ډول احتمالی پېښې او ګواښ مخه ونیوله.
د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو د ډافادر مؤسسې له همکارۍ مننه وکړه او د تاریخی او حساسو سیمو د پاکولو پر اهمیت یې ټینګار وکړ. دغه راز یې د ښار له اوسېدونکو وغوښتل چې د شکمنو ځایونو په اړه اړوندو ادارو ته خبر ورکړي.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۷۱ زیانمنو او اجباری راستنېدونکو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی توکی ووېشل




د بامیان ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونسیف سازمان او د سرې میاشتې له مسؤلینو سره په همغږۍ، د دې ولایت د مرکز په بېلابېلو کلیو کې د ورستیو طبیعی پېښو له امله زیانمنو شویو او له پاکستان او ایران هېوادونو څخه په اجباری توګه راستنو شویو ۵۷۱ کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۶ نېټه د خوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې ۳۹۴ اجباری راستنېدونکو کورنیو هرې یوې ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې، ۱ تخته کمپلې،۱ عدد سطل او همدارنګه ۱۷۷ زیانمنو شویو کورنیو هرې کورنۍ ته ۲ بورۍ ۵۰ کیلویی غنم، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې، ۱ د ژمنۍ البسې کیټ او ۱ عدد سطل ووېشل شو.

## کشف و خنثی‌سازی دو ماین بشکه‌ای در ولسوالی جلریز ولایت میدان وردک




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک با همکاری تیم پاسخ‌دهی عاجل (QRT۰۹) مؤسسه ماین‌پاکی AREA، در ولسوالی جلریز این ولایت، دو حلقه ماین بشکه‌ای برقی را در ساحه شماره AIMF۰۰۶۴، قریه محمد نورخیل، در عمق یک متری زمین بتاریخ ۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کشف و به گونه‌ای مصون خنثی و به گونه مصوون از بین بردند.

این مواد منفجرناشده در حالی کشف و نابود گردید که پیش از این، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک با همکاری مؤسسات AREA و DRC، روند پاکسازی لین دوم سرک از مرکز میدان‌شهر تا مرکز ولسوالی جلریز را از وجود مواد منفجر ناشده آغاز کرده بود.

## د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۱ اجباری راستنېدونکو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مقام د لارښوونې پر بنسټ، دې ولایت ته له ایران څخه په اجباری ډول راستنېدونکو ۹۱ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې له یاد شمېر کورنیو څخه ۶۳ کورنیو هرې یوې ته یوه بوری وریجې، دوه بورۍ غنم، دوه کیلو بوره، نیم کیلو چای، ۲۲ کورنیو هرې یوې ته یوه بورۍ غنم، یوه بورۍ وریجې، دوه کیلو بوره او ۶ کورنیو هرې یوې ته یوه بورۍ غنم او یوه بورۍ وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا برای ۳۲۰ خانواده برنامۀ آگاهی‌دهی عامه درباره حوادث طبیعی برگزار کرد و کیت‌های صحی را برای شماری از آن‌ها توزیع نمود



بر اساس تفاهم‌نامۀ ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسۀ GNI، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث در ولایت کاپیسا در ولسوالی نجراب بتاریخ ۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۲۰ خانواده برنامه‌های آگاهی‌دهی دربارۀ حفظ‌الصحه و برای ۲۰۰ خانواده برنامه های آگاهی‌دهی در زمینۀ جلوگیری از خطرات احتمالی حوادث طبیعی برگزار کرد. همچنان برای ۱۲۰ خانواده از خانواده‌های اشتراک‌کننده کیت‌های صحی توزیع گردید.

علاوه بر این، با همکاری و حمایت مؤسسۀ یادشده، چهار حلقه چاه آب آشامیدنی در همان ولسوالی ترمیم و دوباره به بهره‌برداری سپرده شد و کار ساخت یک دیوار استنادی به طول ۱۰۰ متر در قریۀ جورغل نیز جریان دارد.

شایان ذکر است که آمر محترم ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا از فعالیت‌های اساسی مؤسسۀ GNI قدردانی کرده و خواستار ادامۀ چنین خدمات در تمامی ولسوالی‌های کاپیسا گردید.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۵۰ کارګرانو ته د کار په بدل کې نغدې پیسې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د اکشن اېډ موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د OCHA دفتر دی، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د یادې موسسې په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۷ نېټه د دې ولایت په ګوسفندی او سانچارک ولسوالیو کې ۶۵۰ تنه کارګرانو ته د ترنجونو د کیندنې کار په بدل کې نغدې پیسې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هر کارګر ته ۶٫۶۲۵ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال څلور میلیونه او درې سوه شپږ زره او دوه سوه پنځوس (۴٫۳۰۶٫۲۵۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کسانو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان ۷۰ خانواده بی‌بضاعت کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، برای ۷۰ خانواده آسیب‌دیده و بی‌بضاعت بعد از سروی بتاریخ ۷ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد.




در این پروسه با حضور مسوولان، برای ۷۰ خانواده ۱۰۹ بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۷۳ بوری برنج ۲۵ کیلویی، ۳۲ باب چپرکت، ۵۴ تخته کمپل، ۳۶ تخته جان‌پاک، ۳۱ بسته اطفال، ۲۰۸ بوتل یک لیتره روغن، ۱۲ عدد توپ، ۱۲ عدد آب‌جوش برقی، ۳ تخته قالینو ۶۲ تخته کمپل چینایی توزیع گردید.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۹۵۵ اړمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ASIO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په علی آباد ولسوالۍ کې ۱,۹۵۵ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې دوه بورۍ ۲۵ کیلويي اوړه، ۵ لیتره غوړي، نیم کیلو مالګه او ۶.۲۵ کیلو دال، ۳ کیلو سوپر سریل او ۱.۵ کیلو پلمپي ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۳,۳۸۵ خانواده بی‌بضاعت مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ماهو، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل و مؤسسه متذکره، برای ۳۳۸۵ خانواده بی‌بضاعت در ولسوالی سانچارک بعد از سروی، بتاریخ ۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۹,۸۱۶,۵۰۰(نه میلیون‌و هشت صدو شانزده هزارو پنج صد) افغانی برای این تعداد خانواده ها اختصاص یافته بود.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹۲ زیانمنو کورنیو ته نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان ښځو ټولنیزې او خدماتي موسسې (WASSA) تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ، د دې ولایت په قلعه نو ښار کې د وچکالۍ له امله ۲۹۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲۹۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، ۳۰ عدده قهوه او ۳ کیلو د حلوا اوړه ووېشل شول، چې ټولټال ۸۴۶,۸۰۰ (اته سوه شپږ څلوېښت زره او اته سوه) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۴ کورنیو ته د کور جوړولو او بیارغونې لپاره نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د افغانستان لپاره د بشری خدمتونو او پرمختګ موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه د دې ولایت په ده سبز او موسهی ولسوالیو کې ۲۴ کورنیو ته د کور جوړولو او بیارغونې لپاره نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د ده سبز ولسوالۍ ۵ کورنیو هرې یوې ته د کور جوړولو لپاره د لومړی قسط ۶۶،۴۵۰ افغانۍ او ۴ نورو کورنیو هرې یوې ته د کور بیارغونې لپاره د لومړی قسط ۱۸،۲۵۰ افغانۍ او همدارنګه د موسهی ولسوالۍ ۱۰ کورنیو هرې یوې ته د کور جوړولو لپاره د لومړی قسط ۶۶،۴۵۰ افغانۍ او ۵ نورو کورنیو هرې یوې ته د کور بیارغونې لپاره د لومړی قسط ۱۸،۲۵۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال ۱،۱۶۱،۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

همدا راز، د مرستو ترلاسه کوونکو د مرستندویه مؤسسې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې څخه خوښی ښرګنده کړه او د امارت اسلامی نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.

## د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مقام د حکم پر بنسټ، د دې ولایت اړوند ۲۸ بېوزله، د معیوبینو او معلولینو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## در ولسوالی دره‌نور ولایت ننگرهار، عملیات تثبیت و پاک‌سازی سنگ‌های در حال ریزش آغاز شد




بر اساس درخواست‌ها و عریضه‌های مردم روستاهای ستن و شیمل، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با هماهنگی و نظارت خود، عملیات تثبیت و پاک‌سازی سنگ‌های در حال ریزش در این روستاها را بتاریخ ۸ جمادی الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز کرد.

این پروژه با حمایت مالی مؤسسه CWSA اجرا می‌شود و برای انجام کار، کارگران محلی به صورت دستمزدی استخدام شده‌اند. تقریباً ۵۰۰ متر مکعب سنگ در چارچوب این پروژه تثبیت و پاک‌سازی خواهد شد.

هدف این پروژه حفظ جان و مال مردم، حفاظت از جاده‌ها و پیشگیری از خطرات احتمالی دیگر است. مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث اعلام کردند که پس از تکمیل کار، منطقه از خطر ایمن شده و مشکلات مردم در رفت و آمد حل خواهد شد.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۸۰۶ اړمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې او د ASIO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په خان آباد ولسوالۍ کې ۸۰۶ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې دوه بورۍ ۲۵ کیلویی اوړه، ۵ لیتره غوړی، نیم کیلو مالگه او ۶.۲۵ کیلو دال، ۳ کیلو سوپر سریل او ۱.۵ کیلو پلمپی ووېشل شول.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د حرفوی زده کړو۸۰ تنه زده کوونکو ته نغدې پیسې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې او د AYSO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الاول ۸ نېټه هغو ۸۰ تنه زده کوونکو ته نغدې پیسې ووېشلې، چې د موبایل جوړولو، د سولر سیستم د ترمیم او نصب، سلمې دوزۍ او کلچې پخولو په برخه کې یې حرفوی زده کړې بشپړې کړې.

په دې لړۍ کې هر زده کوونکی ته ۷,۱۴۴ افغانۍ نغدې پیسې ورکړل شوې، چې ټولټال ۵۷۱,۵۲۰ افغانۍ نغدې پیسې د هغوی لپاره ځانگړې شوې وې. دا نغدې مرستې د حرفوی زده کړو د ملاتړ او د ځوانانو د اقتصادی پیاوړتیا په موخه ووېشل شوې.

## عامه پیغامونه :

13. داحتمالي سیلاب راوتلو په سیمو کې د ودانیو له جوړولو څخه ډډه وکړئ
14. د سیلاب زور او قوت ته په کمه سترگه مه گورئ
15. مخکې تر دې چې ستاسو ځمکه یا باغ سیلاب یوسي استنادی دیوالونه  ورته جوړ کړئ
16. په هغو ځایونو کې چې د واروی ښویدو یا غر ښویدو احتمال وی په احتیاط ورڅخه تیرېږئ
17. د دې لپاره چې ستاسو په هستوگن ځایونو کې اورلگیدنه رامنځته نشی  د گازو د ډبو څخه  په ډېر احتیاط او کارواخلئ